دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت   درېیم کال، ۲۳ مه گڼه، پرله پسې ۱۲۳ مه گڼه   یکشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وږی ۲ مه   د۱۴۳۲ هـ ق د رمضان ۲۸ مه   د۲۰۱۱ م د آگست ۲۸ مه

درس قرآن

ای مؤمنانو! د سړیو کومه ډله دې په نورو سړیو ملنډې ونه وهي کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، او نه دې ښځې پر نورو ښځو ملنډې وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي. او هم یو د بل بد مه یادوئ او یو بل ته بد لقبونه مه ږدئ. له ایمان راوړلو وروسته د فسق نوم یادول ډېر بد کار دی. او هر څوک چې له دې وانووښت نو همغوی لوی ظالمان دي. (الحجرات ۱۰ – ۱۱ آیتونه)

درس حدیث

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

کوم سړی چې د روژې د میاشتې یوه روژه هم له څه شرعي رخصت او ناروغۍ پرته وخوري نو که ټول عمر هم روژه ونیسي نو د روژې د میاشتې د یوې ورځې روژې بدل هم نه شي پوره کولې. (ابوداود، ابن ماجه، ترمذی)

پیام تبریکیه حزب اسلامی افغانستان به مناسبت حلول عید سعید فطر

حزب اسلامی افغانستان حلول عید سعید فطر را برای کافهٔ امت اسلامی و ملت مسلمان افغانستان تبریک عرض نموده و آرزو دارد که هموطنان عزیز ما با کسب فیض از برکات ماه پُرنور رمضان ایام خجسته عید را درفضای صلح و آرامی و برادری سپری نمایند. واز خداوند منان استدعا می کنیم که کشور عزیز ما را گهوارهٔ صلح، ثبات، امنیت وترقی فرموده وهموطنان رنجدیدهٔ ما راتوفیق زیست شریفانهٔ باهمی وهمت اعمار آبرومندانهٔ کشور شان را ارزانی کند.

سناتور امریکایی:

پاکستان ازصدور مواد انفجاری به افغانستان جلوگیری کند

صدای آلمان

یک سناتور امریکایی در سفر به اسلام آباد، روز جمعه (۴ سنبله) گفت که او به پاکستان فشار وارد می کند تا صدور مواد انفجاری به افغانستان را کاهش دهد. این مواد توسط شورشیان طالبان در ساخت بمب های کنار جاده به کار می روند.

سناتور روبرت کیسی در یک کنفرانس تلیفونی گفت که گفتگوهای او با رهبران ملکی و نظامی پاکستان به شمول سناتورها متمرکز بر اجرای استراتیژی آن کشور برای کاهش صدور آمونیوم نایتریت یا کود کیمیایی به افغانستان بوده است.

کیسی به خبرنگاران گفت: "من می خواهم که اجرای استراتیژی آنها را ببینم، آن وقت ما تواناتر خواهیم بود که آن را ارزیابی کنیم. اما آنها (پاکستان) تا هنوز این استراتیژی را عملی نکرده اند... و این یکی از دلایلی است که من اینجا هستم".

این سناتور امریکایی همچنان افزود:

بقیه در صفحه ۴

امریکا له طالبانو سره د اوربند وړاندیز رد کړ

تاند:

د بریتانیا ټایمز ورځپاڼې په خپله وروستۍ گڼه کې راپور ورکړ چې امریکا د روژې په میاشت کې له طالبانو سره د اوربند وړاندیز رد کړی دی.

د دې ورځپاڼې له لیکنې سره سم پاکستان دا وړاندیز د پاکستان د افغانستان، پاکستان او امریکا په درې اړخیزه غونډه کې کړی و.

اوس پاکستان غواړي چې په واشنگټن کې د درو هیوادونو د جگپوړو چارواکو تر غونډې مخکې د طالبانو په باب د امریکا له دریځه خبر شي.

د ټایمز ورځپاڼې د راپور له مخې د امریکا متحدو ایالتونو د روژې په مبارکه میاشت کې له وسله والو طالبانو سره د اوربند په باب د پاکستان وړاندیز رد کړ او په دې توگه له وسله والو طالبانو سره د

پاڼې ۴ مخ

پاکستان وايي سلگونو طالبانو له نورستانه پر چترال برید کړی

تاند:

د پاکستان امنیتي او حکومتي مقامات وايي چې په سلگونو سخت دریځي پرون سهار وختي د افغانستان له خاورې وراوښتي د پاکستان د ملېشه ځواکونو پر پوستو او ملکي تاسیساتو یې بریدونه کړي چې په نتیجه کې یې پنځلس تنه وژل شوي دي.

پاکستاني چارواکي وايي چې سخت دریځي د افغانستان له نورستان ولایته وراوښتي او په چترال کې یې د چترال سکاوټ په نوم ملېشه ځواکونه او همداراز څو تنه ملکیان وژلي دي.

د دوی په وینا دا برید د ارندو په سرحدي کلي کې شوی چې افغانستان ته خورا نژدې دی.

له دې حملې وروسته سخت دریځو پولې ته نژدې په نورو سیمو کې پر پاکستاني ځواکونو بریدونه وکړل او جگړې څو ساعته دوام وکړ.

د پاکستان یوه امنیتي مقام د چترال د ارندو د سیمې د حملې په اړه وویل چې سخت دریځو د درنو وسلو په وسیله حمله وکړه او د هاوانونو گولې یې وویشتلې چې په نتیجه کې یې

پاڼې ۴ مخ

اجرای قرارداد برق تاجکستان به افغانستان به تاخیر افتاده است



کابل، رسانه ها:

اجرای قرارداد برق تاجکستان به افغانستان که می بایست دهم اگست شروع می شد، به تاخیر افتاده است.

قرارداد انتقال برق میان شرکت خصوصی دمس و شرکت برق تاجک در اواخر ماه گذشته به امضا رسیده بود. مطابق این قرار داد برق تاجکستان می بایست از نیروگاه سنگ توده ۱ به مناطق شمالی افغانستان انتقال می یافت.

اما حالا که یک ماه از این قرار داد می گذرد، این طرح هنوز هم اجرا نشده است و به گفتهء شرکت برق تاجک، کمپنی خصوصی دمس می خواهد تاجکستان نه تنها در تابستان بلکه در سه ماه زمستان هم برق مورد نیاز مناطق شمالی افغانستان را تامین کند.

از اظهارات ناظرجان یادگاری سخنگوی شرکت برق تاجک بر می آید که تاجکستان در حال حاضر تنها

بقیه در صفحه ۴

یما شیتا:

د مخالفینو لاسونو ته د پروژو د بودیجې دځینو برخو لوېدو اندېښمن کړي یو

کابل، رسنۍ:

په افغانستان کې د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې مشر وایي چې په افغانستان کې د دولت د مخالفینو لاسونو ته د پراختیایي پروژو د بودیجې د ځینو برخو له لوېدو اندېښمن دی.

په افغانستان کې د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) مشر ډاکټر اس کین یماشیتا چې نن یې په افغانستان کې د یادې ادارې د تېرو لسو کلونو د لاسته راوړنو په اړه خبریالانو ته معلومات ورکول وویل چې په پراختیایي پروژو کې سل په سلو کې د فساد او ناوړه گټه اخیستنې مخنیوی امکان نه لري، خو وایي چې د مخنیوي لپاره به یې اړین اقدام وکړي.

یما شیتا زیاته کړه: "البته مخکې له

پاڼې ۴ مخ

ناکامی امریکا در جنگ افغانستان

منابع خارجی

روزنامه انگلیسي ایندیپندنت در مقاله اي با موضوع دستاوردهاي جنگ افغانستان نوشته است: تاکنون در جنگ افغانستان دو هزار و ۵۴۷ نفر از نیروهاي ائتلاف خارجي کشته و ۱۴ تا ۳۴ هزار غیر نظامي نیز قرباني شدند. این جنگ میلیون ها پناهنده و آواره برجا گذاشت و سیاه چاله اي در اقتصاد غرب ایجاد کرد و بیش از ۵۰۰ میلیارد دالر از بودجه را در خود بلعیده است. افغانستان براي امریکا ۱۰ میلیارد دالر در ماه هزینه دارد و انگلیس نیز سالانه ۵/۴ میلیارد دالر صرف آن مي کند.

روزنامه ایندیپندنت در ادامه افزود: اما، اکنون روحیه ها چنان تغیر کرده است که (ویلیام هیگ) به صراحت خواستار مذاکره با گروه طالبان، یعني همان کساني که جنگ با هدف از میان بردن آنها در گرفت، شده است.

بر اساس گزارش منابع مطلع به این روزنامه انگلیسي در حال حاضر، مذاکره در باره مذاکرات، میان مقامات میان رتبه وزارت خارجه و سازمان اطلاعات مرکزي (سیا) از طرف امریکا (با واسطه گري سفیر آلمان) و برخي مقامات طالبان، در حال انجام است.

ایندیپندنت در ادامه با طرح این سوال که دستاوردهاي این جنگ چه بوده است؟ افزود: با وجود خشونت بي سابقه و دولت ناکارآمد که فساد در آن بیداد مي کند و نیز نیروهاي پلیس و ارتش که از بي سوادي رنج مي برند...

بقیه در صفحه دوم

مخابراتو وزارت په یو لوی خیانت سترگې پټې کړې

درېیم مخ

در ولسی جرگه بین وکلاء برخورد فزیکی صورت گرفت

کابل، رسانه ها:

در نشست عمومی امروز ولسی جرگه که روی معضلهء انتخابات سال گذشته متمرکز بود، شهزاده شاهد یک عضو مجمع اصلاح طلبان زمانی با برخورد فزیکی شماری از اعضای ولسی جرگه رو به رو شد که او حمایت این مجمع را از تصمیم اخیر کمسیون مستقل انتخابات ابراز کرد.

این عضو ولسی جرگه که به نماینده گی از مجمع پارلمانی اصلاح طلبان صحبت می کرد گفت که بر بنیاد فیصله کمسیون مستقل انتخابات ۹ تن از اعضای فعلی ولسی جرگه باید کرسی های شان را برای ۹ تن از کاندیدان معترض انتخابات ولسی جرگه واگذار کنند. اما این سخنان شهزاده شاهد، خشم اعضای ایتلاف حمایت از قانون و برخی وکلای دیگر را بر انگیخت.

در اجلاس امروز ولسی جرگه قبل از آنکه نظم جلسه بر هم بخورد، تعدادی از نماینده گان مردم در ولسی جرگه گفتند، که فضل احمد معنوی رییس کمسیون مستقل انتخابات با پیروز اعلام کردن ۹ کاندید ناراضی، دست به خیانت ملی زده است.

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

تر څو به په دې بې خونده او بې رنګو اخترونو ځان غولوو!؟

مسلمانان په کال کې دوه اختر لمانځي یوه وړوکې او بل لوی اختر دا دواړه اختره واقعاً د خوشالۍ ورځې دي، پدې ورځو کې مسلمانان یو بل ته مبارکیانې وايي او د مینې غېږه ورکوي، یو بل کره ورځي، دعا سلام کوي. یو بل ته د میلمستیاګانو په برابرولو د خپلو پیرزوینو څرګندوي کوي.

د ټبر مرور ورونه او دوستان د اخترونو په ورځو کې یو بل ته بخښنه کوي او له نوی سره د پخلاینې د ژوند پیلولو ژمنه کوي، خو زموږ دا اخترونه تر هغې نیمګړې او پیکه دې تر څو مو چې په ملي کچه پخپلو کې یو بل ته د وروري او مینې لاسونه نه وي ورکړې، د ژبې، قوم او رنګ پرستي شیطاني بت مو نه وي مات کړې، د ډلو ټپلو د جوړولو او پخپلو کې د جنګ جګړې فکر مو له مغزو نه وي ویستلې، له خاورې، ولس او عقیدې سره مو د خیانت او جفا لاره نه وي پرېښې، د یو بل د ختمولو او له صحنې نه د ویستلو څخه مو لاس نه وي اخستې، د افغانستان د خاورې د دښمنانو په لمسه د خپل هېواد د تباه کولو او خپلو ورونو د وژلو څخه مو نصوحه توبه نه وي کړې، د پردیو د غلامۍ د منلو څخه مو سوچه انکار نه وي کړې، تر ټولو مهمه دا چې پخپل هېواد کې مو یوه خپلواک سوچه اسلامي حکومت نه وي قایم کړی.

زموږ د افغانانو واقعي اختر به هله وي چې ټول اطاعت د الله لپاره ځانګړی شي د طاغوت او طاغوتي نظامونو جرړې وویستل شي، د طاغوتي ځواکونو د برلاسي پرځای د الله تعالی مخلص بنده ګان د زمکې خلیفه ګان شی، د ظلم مانۍ نسکورې او د عدالت مانۍ هسکې شي، حق غالب او باطل مغلوب شي.

د وړوکی اختر د روژو اصل پیغام هم همدا دی چې تقوی او پرهیزګاري ترلاسه شي ټولنه له ګناه او تېریو څخه پاکه شي، د همدردي، مواسات، وررور ګلوي، احسان، اتفاق او یووالې فضأ قائمه شي، د کفر، شرک، بدعت، الحاد، بغاوت او عصیان پلویان له منځه لاړ شي، د پنځلسو لکو شهیدانو هغه ارمانونه ترسره شي چې د افغانستان د آزادي او اسلامي حکومت د قیام لپاره یې خپلې ککرۍ نذرانه کړې وې.

دا به څه اختر وي چې هره ورځ زموږ د بې ګناه ولس وینې توېږي، نه د شپې سکون شته او نه د ورځې، امن او امان تالا ترغې شوي، د الوتکو، ټانکونو، توپونو، ماینونو او ماشیندارو مهیبو آوازونو پر خلکو خوب حرام کړې، هر لورې لاقانونیت او ظلم سالاري ده. سیاسي، مذهبي او قومي مشران مو بې اتفاقه او د یو بل په خلاف ګوته په ماشه دي. سیاست او تنقید د اصلاح او تعمیر لپاره نه بلکې د تخریب لپاره کېږي، د قانون جنازه وتلې او عملاً هېواد د لاقانونیت په ځنګل بدل شوې.

زموږ اخترونه به هله واقعي اخترونه شي چې زموږ مشران خپل ولس ته د اتفاق او یووالې زیرې ورکړي ټول په یو صف کې ودریږي، یو دریځ او یو شعار خپل کړي، هېواد له موجوده بحران څخه وباسي، د جنګ جګړو اور مړ کړي، واقعي استقلال ترلاسه کړي، په ګډه د خپلې خاورې او ولس د خدمت لپاره ملا وتړي د کونډو رنډو، یتیمو او بې وزلو اوښکې پاکې کړي، پر ټپي زړونو یې د مرهم پټۍ کېږدي او د هېواد د پرمختګ لپاره خپل ټول استعداد او ځواک په کار واچوي.

که ددغو کارونو له ترسره کولو پرته تش اختر لمانځو یو بل ته مبارکي وایو دا نو هسې ځان تېر ویستل دي، نه پکې خوشالي شته او نه سکون بلکې ددې داسې مثال دی لکه چې یو غلام یا یو اسیر ته په کال کې شپږ ورځې له بندي خانې نه دباندې د ګرځېدو اجازه ورکړی شي هغه هم په ولچک او زولنو کې چې دېته نه آزادی ویلی شي او نه خوشالي.

لوی الله دې موږ ته د واقعي او دائمي اختر نعمت په برخه کړي.
آمین

ناکامی امریکا در جنگ افغانستان

(ادامه از صفحه اول)

... و متکي به حمایت نیروهاي ائتلاف خارجي هستند، افغانستان را هر چیزي مي توان نامید به جز یک کشور با ثبات.

به رغم میلیاردها دالر که با هدف ایجاد یک ارتش و پلیس با توان مبارزه مستقل با طالبان به این کشور سرازیر شد، بر اساس گزارش نیروهاي بین المللي کمک به امنیت افغانستان (ایساف)، تنها یک واحد ارتش در این کشور مي تواند به صورت مستقل به اجراي عملیات نظامي بپردازد.

نگارنده مقاله مذکور در ادامه افزود: نیروهاي امنیتي افغان علاوه بر مربي نیازمند پاکسازي ارتش از شبه نظامیان طالبان نیز هستند. "جک کم"، جانشین فرمانده آموزشي نیروهاي سازمان پیمان آتلانتیک شمالي (ناتو) در افغانستان در گفت و گو با این نشریه اظهار داشت: که هیچ ضرب الاجلي را نمي توان تعیین کرد که تا آن تاریخ نیروهاي امنیتي افغانستان قادر به اقدام مستقل و بدون حمایت خارجي باشند.

در این میان، خشونت در افغانستان ماه گذشته به بالاترین میزان خود رسید و ۹۶۱ نفر از غیرنظامیان کشته و یا زخمي شدند و همین آمار ماه می (ثور –جوزا) را خونبار ترین ماه از زمان آغاز آمارگیري سازمان ملل متحد در سال ۲۰۰۷ ساخت.

گزارش اخیر موسسه (صلح بین المللي کارنګي) افغانستان را (انتقال غیر ممکن) نامید و گفت: تصور انتقال امنیت از نیروهاي خارجي به افغانها تا سال ۲۰۱۴ میلادي (غیر واقع گرایانه) است.

در ادامه این مقاله آمده است: سال گذشته براي نخستین بار درآمد هاي مالیاتي دولت افغانستان از یک میلیارد دالر فراتر رفت، اما بر اساس گزارش برآورد سناي امریکا، ۹۷ درصد از تولید ناخالص ملي از راه کمک هاي نظامي و کمک هاي بین المللي حاصل شده است. با خروج نیروهاي نظامي بخش عظیمي از این وجوه نقدي که براي بازسازي در نظر گرفته شده نیز از این کشور خارج خواهد شد.

این روزنامه انګلیسي همچنین با اشاره به اینکه افغانستان مهم ترین تولید کننده هیروئین و حشیش در جهان است، در ادامه افزود: این جنگ تاثیر چنداني بر تغییر این وضعیت نداشته است. هم اکنون افغانستان تولید کننده ۷۴ درصد از تریاک جهان است.

به گفته (یوري فدوتوف) ، مدیر اجرایي دفتر سازمان ملل در امور مبارزه با مواد مخدر و جرایم، "یافته هاي اولیه این دفتر نشان مي دهند که تولید تریاک افغانستان احتمالا در سال ۲۰۱۱ به سطوح بالاي قبلي بازخواهد گشت."

ایندیپندنت به عنوان نمونه دیگري از عدم موفقیت جنگ افغانستان به روابط نامساعد میان امریکا و پاکستان اشاره کرده و نوشت: آسیب پذیري و شکنندگي روابط میان امریکا و پاکستان که زماني به خاطر وجود دشمن مشترک آن دو یعني شوروي سابق استحکام یافته بود، اکنون در آشکارترین وضعیت خود قرار دارد.

پاکستان و امریکا محکوم به همکاري با یکدیگر هستند اما این رابطه از نگاه طرفین یک رابطه نفرت انگیز و بدبینانه است و در همین وضعیت نیز باقي خواهد ماند.

هم اکنون ۱۵۰ هزار سرباز بیگانه از ۵۰ کشور به ظاهر براي مبارزه با تروریسم، تامین صلح، توسعه حقوق بشر، دموکراسي و برقراري امنیت در افغانستان حضور دارند که دو سوم این نیروها را سربازان امریکایي تشکیل مي دهند.

اوباما براي نجات از جنگي که نیروهاي امریکایي در باتلاق افغانستان به آن گرفتار شده اند، دستور خروج تدریجي ۳۳ هزار این نیروها تا تابستان سال آینده را صادر کرد. ده هزار این نیروها در سال ۲۰۱۱ میلادي و ۲۳ هزار نفر هم در سال ۲۰۱۲ میلادي این کشور را ترک مي کنند.

با فرسایشي شدن جنگ افغانستان نه تنها بار مالي زیادي بر اقتصاد کشورهاي درگیر در این نبرد تحمیل شده است، بلکه نظامیان بازگشته به کشورهاي خود با انواع بیماري هاي روحي و جسمي رنج مي برند.

مخابراتو وزارت په یو لوی خیانت سترگې پټې کړي

ټول مخابراتو وزارت تېر کال دحوت پر ۲۸ مه یو راپور خپور کړ چې دهیواد په پلازمینه کابل په یو کور کې مهمې مخابراتي شبکې چې سیم باکس نومېږي د کشفېدو خبر ورکړ، خو دایې ونه ویل چې دا کور دچا وه او ددې لوی جرم عاملین څوک اوکومې قانوني مرجع ته یې معریفي کړه څه وه نه ویل او په خوله یې لاس راښکه. د سیم باکس مخابراتي بکس ډېرې مهمې کړنې ترسره کوی او داخلي شبکې یې پر کړنو نه خبرېږي دسیم باکس یو کار دا دی چې هغه تیلیفوني اړیکې چې له بهره نیول کېږي هغه اړیکې په داخلي اړیکو بدلوي یعنې کله چې څوک له بهره یوې داخلي شبکې سره اړیکه نیسي، سیم باکس دا اړیکه په اوتومات ډول په داخلي نمبر اړوي او داخلي تیلفون والا فکر نه کوي چې اړیکه له بهره نیول شوی بلکې داسې فکر کوي له کوم داخلي نمبره ورته زنگ وهل شوې چې دا کار هم له امنیتي پلوه د اندیښنې وړ دی اوهم له اقتصادي اړخه یو لویه اقتصادي ضربه ده او د خبرو یو زیرمه تون چې تبادله شوو خبرو د ساتنې اوکشفولو صلاحیت هم لري.

دا سیم باکس زیات زیانونه لري خو موږ یې دلته پر یو څو زیانونو رڼا اچو او خپل درانه وطنوال لدې لوی خیانته خبروو.

تر ټولو لوی زیان یې دملک امنیتي وضعې ته متوجې دی د افغانستان په څېر یو جنگ ځپلې هیواد کې چې له دیرشو کلونو جگړو په دوران کې پکې د یو زیات شمېر هیوادونو استخباراتي شبکې فعالیت او کار کوي او د استخباراتي معلوماتو د راټولولو لپاره له هرې وسیلې او نیرنگه کار اخلي خپلو شومو اوگوته شوو اهدافوته ځان رسوي چې دا ډول اله (سیم باکس) دې ډول شبکو لپاره ډېر گټور ثابتېدای شي او لدې لارې په آسانی کولای شي معلومات راټول کړي ځکه هغه داخلي امنیتي او مخابراتي شبکې چې غواړي بهرنۍ شبکې تر خپل پوښښ لاندې راولي چې ددوی قانوني امنیتي مسئولیت دی په یو ډول فریب کې اچوي او هرڅه یې چې خوښه وي دخپلو بهرنیو بادارانو لپاره مخابره کړی او د هغوی له لوری هدایت ترلاسه کړی په خلاص مټ ترسره کوی.

بل زیان یې اقتصادی دی او هغه دا چې دنړی والو مخبراتي شبکو ترمنځ داسې یو تړون موجود دی چې که چېرې له یو بهرنی هیواده تیلفون کېږي نو همغه شبکه به داخلي شبکې ته یو اندازه مالیه ورکوي چې دا تړون دټولو نړی والو مخابراتي شبکو او هېوادو ترمنځ شتون لري چې د دې سیم باکس په وسیله دا مالیه هم له کوربه هیواد په تخنیکي شکل غلا کېږي.

زمونږ دا غریب هېواد چې اوس اوس پکې شخصي مخابراتي شبکې فعالې شوې او یو څه کمو توم مالیه ترې لاسته راوړې او دا امیدواري پیدا شوې چې د دې نیم ژوانده هیواد په اقتصادي وضعه کې به مرسته وکړی هم د ده دا ډول داخلي او خارجي دسیسو ښکار دی خو مخابراتو وزارت چې د دا ډول پېښو دمخنیوی دنده لري پدې لوی خیانت سترگې پټې کړی اودا جنایتکاره شبکه یې رسوا نه کړه همغه وخت داسې گونگوسې وه چې لکه دنوروسترو خیانتونو په څېر به د دې ترشا هم دلوړ پوړو چارواکو لاس وي ځکه دلته د هرخیانت ترشا دهغه جنابانو لاسونه وي چې نه یې حکومت لاس نیوی شي او نه پرې راغلی ښاغلی غوږ گروي او نه رسنۍ د دوی له خیانته پرده پورته کوي چې ددوی ژورنالیستیک رسالت دی خو زورواکو اومافیایی کړی په هره برخه کې لوی لاس لري.

دوی په داخلی چور اوتالان ددولتی اوشخصی ځمکو پر غصبولو او نورو جنایتونو بسنه و نکړه بلکی وړاندی لاړل او د خیانت نړی وال مارکیټ ته یی لار پیدا کړه اوس په نړی واله کچه دافغانستان په سراوملی گټومعاملی کوی داسوداگر زمونږله گرانو هیوادوالو پټ نه دی که هر څومره یی د مخابراتو وزارت پټ کړی دادی پدی وروستیو کی دمخابراتو وزارت د با ایمانه او په خاوره مینو کارکونکو له لوری داسی معلومات ترلاسه شوی چی داسیم باکس دولسی جرگی دنن ورځی ترټولو مطرح وکیل په کورکی کشف اوترلاسه شوی خو وزارت یی هم په ولسی جرگه کی او هم له ولسی جرگی بهر دبدمعاشی اوځینونورو مصلحتونو له کبله نوم افشا نه کړخو دومره باید روښانه شی چی دا ښاغلی په هیروینو اونورو بشری ضد جنایتونو کی نوم لری خو افسوس چی محاکم یی هم په نیولو اومحاکمه کی پاتی راغلی اوس د ملت په کور کی ناست دي اود دی بی چاره اوبی خبره ملت استاځیتوب کوی.

عبدالله "کامه وال"

د خوراک، څښاک روژه ختمه شوه خو نوره روژه نه ختمېږي

محمد خلیل

الله جل جلاله په قرآن کریم کې د روژې په میاشت کې د روژو د نیولو اصل مقصد تقوی ترلاسه کول ښودلې ده، الحمدلله د افغانستان مسلمان ولس د روژې د مبارکی میاشتې روژې په ډېر شوق او ذوق سره ونیولې، د شپې تراویح، تهجدونه، نوافل او د قرآن کریم ختمونه او تلاوتونه یې وکړل، پنځه وخته لمونځونه یې په پوره پابندی سره په جماعت ادا کړل، خیراتونه او صدقات یې ورکړل ذکر او اذکار یې وکړل، د صبر او زغم لمنه یې له لاسه ورنکړه د یو بل سره یې له همدردي او ایثار نه یې کار واخست، لنډه دا چې د روژې په مبارکه میاشت کې د امن، خواخوږي، تېرېدنې او ښه اخلاقو فضأ قائمه شوه، اوس نو د روژې مبارکې میاشتې ورځې په خلاصېدو دي، خلک د اختر د نمانځلو لپاره چمتووالی نیسي تر څو ددې خبرې شکرانه ادا کړي چې د روژې په مبارکه میاشت کې د روژو په نیولو او دهغې د تقدس په ساتلو کې بریالي شول، وتوانیدل چې په دې میاشت کې د تقوی او پرهیزگاري مشق ترلاسه کړي او پخپل نفس د قابو راوستو او د صبر او زغم تمرین زده کړي.

زمونږ ځیني ورونه خیال کوي چې د روژې د میاشتې له ختمېدو سره سم ددوی مسؤولیت بشپړ شو، له هر ډول بندیزونو څخه آزاد شول، نور چې هر څه کوي آزاد دي، ژبه یې هم د فضولو خبرو لپاره آزاده شوه او غوږونه او سترگې یې هم آزادې شوې، د اختر له لومړی ورځې نه د بې بندو باري کارونو ته لاسونه اچوي، نشې تماشې کوي، فضول او چټیات وایي، د قمار په څېر گناهونه کوي کانسرتونو او سینماگانو ته ځي او په دې توگه د روژې په میاشت کې چې کوم ثوابونه یې گټلي وي هغه د اختر په ورځو کې له لاسه ورکوي په داسې حال کې چې د یوې میاشتې د روژې مقصد دا دی چې ورپسې راتلونکی یو کال عمر هم د روژې د میاشتې په څېر تېر کړي همغه ماحول او همغه اخلاق او تقوی قائمه کړي چې د روژې په میاشت کې یې قائمه کړی وه خو ډېر افسوس چې داسې نه کېږي او تر بلې روژې پورې چې دچا څومره وس وي د شیطان او غلطو نفساني غوښتنو بندگي کوي.

راځئ د روژې د مبارکې میاشتې په اصل مفهوم ځانونه پوه کړو او هغه الهی حکمت او غوښتنه له لاسه ورنکړو چې د روژې په میاشت کې یې اېښې دي.

که موږ د روژې د مبارکې میاشتې له تېرېدو سره سم د روژې اصل حکمت او مقاصد له لاسه ورکوو نو ددې مثال بالکل داسې دی لکه چې یو سړی د انرژۍ د ترلاسه کولو لپاره ښه مناسب خوراک څښاک وکړي او له مړېدو وروسته سمدلاسه گوتې خولې ته دننه کړي او ټول خوراک څښاک بېرته واړوي. هغه خلک چې د روژې د میاشتې له روژو نیولو وروسته د اختر په ورځو او نورو یو لسو میاشتو کې د روژې په میاشت کې ترلاسه کړی تقوی له لاسه ورکوي او بېرته د گناه کارونو ته مخه کوي هغوی دې په دې پوه شي چې د روژې د میاشتې ټوله گټه یې په اوبو لاهو کړې او دهغه مطلوب مقصد په ترلاسه کولو کې پاتې راغلي چې الله تعالی ورته تقوی ویلې ده.

د خپلو قدرمنو ورونو څخه په ډېره مینه هیله کېږي چې د روژې د میاشتې له رخصتېدو وروسته دې هم د روژې هغه فوائد او گټې له لاسه نه ورکوي چې په دې میاشت کې یې ترلاسه کړي دي، څنگه چې د روژې په میاشت کې په ډېر شوق او ذوق، لمونځونه په جماعت سره ادا کول، څنگه چې، د صبر زغم، تقوی همدردي، مساوات او د غوره اخلاقو فضایي قائمه کړې وه همغه فضأ دې په نورو میاشتو کې هم قائمه کړي، ځکه چې لوی الله له خپلو بنده گانو څخه هر وخت او هره شیبه تقوی او له گناه نه پاک ژوند غواړي او د روژې د میاشتې دیرش ورځې روژې نیول د تقوی دترلاسه کولو لپاره بهترین مشق او تمرین دی.

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

په افغانستان کې تر ټوله غوره دفاعي وسله

نړیوالو رسنیو په افغانستان کې د پولیسو په اړه د ملګرو ملتونو له خوا د ترسره شوې نظر پوښتنې او په دې هېواد کې د نړیوالو د حضور په اړه لیکنې کړې دي.

ګارډین:

انګلستان چاپ ګارډین ورځپاڼې په وروستۍ کې، "په افغانستان کې صداقت او رښتینولي تر ټوله غوره دفاعي وسله ده» تر سرلیک لاندې یوه مقاله لیکلې.

ورځپاڼه لیکي، ناټو پلان لري، چې د دوو ملیاردو او ۷ میلونو ډالرو په ارزښت د وسلو ستر انبارونه افغانستان ته واستوي. خو دا عمل د هغه پولیس یا امنیتي مامور ځای نشي نیولای چې د خلکو اعتماد یې حاصل کړی وي.

ګارډین د افغانستان په قضا، پولیسو او نورو ادارو کې د اداري فساد د مثالونو له یادولو وروسته لیکي، د جمهور رییس حامد کرزي د حکومت لپاره د دفاع تر ټولو ښه او غوره لار، سالم حکومت کول او د قانون حاکمیت دی.

ورځپاڼه لیکي، د ملګرو ملتونو په یوې وروستۍ نظر پوښتنې کې ښودل شوي، چې د پوښتل شویو هرو پنځو افغانانو څخه درېو یې ویلي، د افغانستان پولیس په اداري فساد کې ښکیل دي.

د پوښتل شویو د هرو څلورو کسانو څخه یوه یې ویلي، پولیس یې د نشه یي موادو په استعمال لیدلي او له نیمایي څخه زیاتو کسانو ویلي، په پولیسو کې د اداري فساد په اړه حکومت ته معلومات ورکول ګټه نه لري او وضعه نوره هم خرابوي.

ګارډین وړاندې لیکي، دا به له عقل څخه لیرې او د نه منلو وړ خبره وي، چې له افغان ځوانانو څخه وغوښتل شي، چې په تش لاس د طالبانو پر ضد وجنګیږي.

خو د هغو وسلو او مهماتو د کمیت او کیفیت په اړه چې ناټو یې افغانستان ته د استولو اراده لري، یوه مهمه نقطه له یاده ایستل شوي او

هغه دا چې، په افغانستان کې د مبارزې نتایج د عصري وسله واو پرمخ تللې تکنالوژۍ پر ځای، په یوه روزل شوي او صادق پولیس او له اداري فساد څه په پاک عدلي سیستم پورې، مربوطې دي.

ګارډین لیکي، که چیرې ناټو په ریښتیا هم غواړي په یوه مسولیت سره له افغانستان څخه پښې سپکې کړي، نو په کومه اندازه چې یې د افغانستان په پوځي برخې کې پانګوونه کړې، په هماغه اندازه د دې هېواد په عدلي سیستم کې هم باید کار وکړي.

پراسپیکټ:

انګلستان چاپ پراسپیکټ مجلې په وروستۍ ګڼې کې د امریکا د سپتمبر د ۱۱ مې په اړه د جوړ شوي کمیسیون د میندونو په اړه یوه مقاله لیکلې او په یوې برخې کې یې راغلي:

په تېرو لسو کلونو کې په افغانستان کې د امریکا له پوځي حضور څخه د خلکو ملاتړ مخ په کمیدو و او تر ډېره حده په دې اړه په خپله د امریکا ګناه هم ده.

له بلې خوا، په افغانستان کې ډېره امریکایي عسکراو قراردادیان ټول ستړي شوي دي. د مجلې په باور، د دې وخت رارسیدلی چې له افغانستان څخه د وتلو لار ولټوله شي.

مجله لیکي، تاریخ نه تکراریږي. اسامه بن لادن وژل شوی او له دې وروسته امریکا ته د سپتمبر د ۱۱ مې تروریستي حملو په څېر ګواښونه مخامخ نه دي.

له یوې خوا په تېرو لسو کلونو کې د القاعده او طالبانو پر ضد د امریکا د لسو کالو عملیاتو دا خطر کم کړی او له بل لوري، په افغانستان او عربي هیوادو کې د القاعده شبکې تروریستي حرکتونو هم په دغې شبکې ساحه تنګه کړې ده.

پراسپکټ مجله زیاتوي، په افغانستان، عراق او پاکستان کې له دې وروسته د امریکا د پوځي حضور اړتیا نشته او دا مهال متحده ایالات کولای شي، چې د القاعده شبکې او نورو تروریستي ډلو پر ضد له خپلې خاورې څخه هم عمل وکړي او له دغو هیوادونو څخه د خپلو عسکرو وتلو ته لار خلاصه کړي.

په لیبیا کې د جنګیدونکې ډلې مشر په افغان جهاد کې برخه اخیستې وه

کابل، رسنۍ:

عبدالحکیم بلحاج په طرابلس کې دانقلابیانو مشر دی او دوه ورځې وړاندې وتوانیده ، چې دډګروال معمر القذافي ودانۍ (باب العزیزیة) په ډېر مهارت سره ونیسي .

نوموړی پخوا دجګړه مارې اسلامي ډلې مشر و او دخلکو ترمنځ پر بنسټپالنی مشهوره وه . دا جګړه ماره لیبیایي ډله دشلمې پیړۍ په نویمو کلونو کې رامنځته شوې ده دا جهادي ډله هغو لیبیایانو تأسیس کړې ده ،چې دافغان –شوروي له جګړې بیرته خپل هېواد ته ستانه شوې و .دا ډله دبن لادن نږدې ملګري ابو اللیث اللیبي له منځنی اسیا رهبري کوله . عبدالحکیم بلحاج په ۱۹۶۶ ز کې زیږیدلی دی ، انجینر دی ، دوه میرمنې (مغربی ،سوډانی) لري په ۱۹۸۸ ز کې افغانستان ته راغلې و او هلته یې دافغان –شوروي په جګړه کې ونډه اخستې وه . نوموړی له افغانستان سربېره نورو اسلامي هېوادونو لکه ترکیه ، سوډان او پاکستان ته هم سفرونه کړې دي بلحاج په ۲۰۰۴ ز کې په افغانستان او مالیزیا کې زنداني شوی امریکایي ځارګرو ورځخه په تایلینډ کې هم پوښتنې ګرویږنې کړې دي او بیا په لیبیایي چارواکو ته تسلیم کړ دلیبیا حکومت په ۲۰۰۸ ز کې نوموړی له زندانه خوشی کړ او خپله عبدالحکیم بلحاج وویل : ما نور له تاوتریخوالي لاس اخستی دی سیاسي مبارزه کوم .

عبدالحکیم بلحاج په لیبیا کې داسلامي خوځښت ترمنځ پر ابو عبدالله الصادق مشهور دی اوسمهال بلحاج په ګرده لیبیا کې دانقلابیانو دمهم مشر په توګه مشهور دی او دمعمر القذافي د استوګنځای له سوبې وروسته یې شخصیت نور هم وځلیده . الجماعة الأسلامیة المقاتله په روان ولسي پاڅون کې خپل ځای لري او دعبدالحکیم بلحاج په مشرۍ نږدې ۸۰۰ تنه غړي دمعمر القذافي دواکمنی پر ضد جنګیږي . دمعمر القذافي حکومت د ۲۰۱۰ ز په مارچ کې دهمدې ډلې نږدې ۱۰۰ تنه مشران له بنده خوشی کړل ،چې مشهور یې عبدالحکیم بلحاج ، ابو المنذر الساعدي او خالد الشریف دي .

پاکستان از صدور مواد...

"من فکر می کنم ما واقعا پیشرفت هایی داشته ایم که نظر خود را به رهبران پاکستان ابراز داشته و گفته ایم که ما خواهان نتایج سریع استراتیژی کاهش صادرات آمونیوم نایتریت به افغانستان می باشیم".

او گفت که این استراتیژی شامل اجرای بهتر قانون، آگاهی عمومی در پاکستان در مورد تهدیدات از طریق مواد کیمیایی، پیگرد بهتر این مواد با نشانی کردن آنها با رنگ کردن مشخص، و یا ممانعت مرزی می باشد.

کیسی پس از ملاقات با یوسف رضا گیلانی، نخست وزیر و جنرال اشفاق کیانی، رییس ارتش پاکستان گفت: "به ما گفته شد که آنها اجرای این برنامه را در خزان آغاز خواهند کرد، اما تاریخ دقیقی ارائه نکردند".

روبرت کیسی، رییس کمیته یی از سنای امریکا در امور شرق نزدیک، آسیای مرکزی و جنوبی می باشد. او گفت که سال گذشته ۳۶۸ سرباز خدماتی مرد و زن امریکایی توسط بمب های کنار جاده و سازه های انفجاری کشته یا زخمی شدند. او تصریح کرد که ۱۲۵ امریکایی توسط سازه های انفجاری کشته شدند.

این سناتور امریکایی همچنان افزود: "بسیار بسیار به ندرت اتفاق می افتد که یک سرباز در عملیات کشته شود؛ اما با سازه های انفجاری کشته می شوند. به همین دلیل ما مجبوریم گام هایی را برای تمرکز شدید بر استراتیژی ضد سازه های انفجاری و مواد سازنده ی آنها برداریم".

کیسی همچنان به تنش های بین دو کشور امریکا و پاکستان اشاره کرد و افزود که مقامات پاکستانی هنوز شدیدا مخالف عملیاتی هستند که در دوم ماه می به طور مخفیانه توسط نیروهای ویژه امریکایی انجام شد. در آن عملیات اسامه بن لادن، رهبر پیشین شبکه القاعده به قتل رسید. اما این سناتور امریکایی تاکید کرد که این مسئله همکاری های ضد تروریسم دو کشور را خراب نخواهد کرد.

پیش از این وزارت دفاع افغانستان از پاکستان خواسته بود تا بر کارخانه های نایتریت آمونیم در آن کشور کنترول بیشتر داشته باشد. به گفته این وزارت بیشتر از ۹۰ درصد ماین های که طالبان از آنها استفاده می کنند، از این مواد ساخته می شوند.

د مخالفینو لاسونو ته د پروژو...

دې چې موږ پیسې د یوه کار د انجام لپاره مصرف کړو، موږ له خپلو ټولو امکاناتو استفاده کوو چې د ناوړه ګټې اخیستنې ساحه محدوده او بنده کړو، ترڅو کومې غیرقانوني لارې ته لاره نه شي."

ده وویل چې یاده اداره د پروژو د عملي کولو لپاره ځانګړې کاري پروسیجر لري، چې له مخې یې د ناوړه ګټې اخیستنې کچه او موکه محدودوي.

په دې وروستیو کې داسې راپوروونه خپاره شول چې ځینې افغان قراردادیان پر خپلو پروژو د طالبانو د بریدونو د مخنیوي لپاره هغوی ته پیسې ورکوي.

یماشیتا د پروسیجر په اړه وویل چې د امریکا نړیواله پراختیایي اداره د فساد د مخنیوي لپاره موسسې یا کمپنۍ ته د پروژې له ورکړې وړاندې د کمپنۍ، کارکوونکیو او له پروژې له ګټو څخه د برخمن کېدونکیو خلکو په اړه اړین معلومات ترلاسه کوي.

نوموړي زیاته کړه چې د پروژې تر سپارلو وروسته یاده اداره هره میاشت، په سیمه کې له پروژې کتنه کوي او له بلې کوونکې اداري غواړي چې په اړه یې هره میاشت دوی ته معلومات ورکړي.

ده وویل چې د ځینو کمپنو کارونه یې له دې امله چې په سمه توګه یې نه دي ترسره کړي، درولي دي او همدا راز یې یو شمېر نورې جریمه کړې هم دي.

هغه د ځینو کمپنیو د جرمي مواردو یادونه هم وکړه، خو د ځینو ملحوظاتو له امله یې نومونه په ډاګه نه کړل.

یماشیتا وویل که چېرې کومه کمپنۍ په سمه توګه د پروژې کارونه ترسره نه کړي، نو د راتلونکې لپاره نه شي کولای له دې ادارې څخه پروژه ترلاسه کړي.

د یادونې ده چې د امریکا نړیوالې پراختیایي اداري د ۲۰۰۲ کال راهیسې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې شاوخوا ۱۳ ملیارده ډالره مرسته کړې ده.

اجرای قرارداد برق تاجکستان...

توان آن را دارد که در فصل تابستان آن هم زمانی که اندکی بیشتر انرژی برق ذخیره می شود، آن را به افغانستان صادر کند.

در حالی که افغانستان به برق ارزان تاجکستان نیاز دارد، ازبکستان سه برابر قیمت تر انرژی برق را به افغانستان انتقال می دهد و ترکمنستان همچنان تلاش های را آغاز کرده است تا پلان برق ۵۰۰ کیلوات خود را نیز تا کابل تمدید کند.

اما عبدالغفور آرزو سفیر افغانستان در دوشنبه پایتخت تاجکستان می گوید، این بحث دو شرکت است، ولی حکومت افغانستان همیشه به برق تاجکستان نیاز دارد.

گفته می شود که تاجکستان در برابر نیازمندی های همسایه های خود افغانستان و پاکستان به انرژی برق، ظرفیت صادرات برق را ندارد و تاجکستان خود در فصل زمستان به کمبود انرژی دچار می گردد و حتی نیاز های داخلی خود را برآورده کرده نمی تواند.

تاجکستان تنها امید به ساختمان بند برق راغون دارد که در صورت فعال شدن آن می تواند مطالبات بازار های داخلی و خارجی خود را مرفوع کند.

اما حالا بانک جهانی با بازرسی بند برق راغون به حکومت تاجکستان توصیه کرده است که تا پایان تشخیص طرح راغون از ساختمان مرحلهء اول آن، خود داری کنند.

تحلیل گران می گویند که چنین توصیه های بانک جهانی بازار انرژی کشورهای دیگر همسایه های افغانستان ازبکستان و ترکمنستان را گرم و افغانستان را به خریداری برق قیمت آنها وادار می سازد.

امریکا له طالبانو سره ...

سولې د خبرو د پیلولو پر سر د دواړو هیوادونو ترمنځ نهیلي زیاته شوې ده.

د دې ورځپاڼې د راپور پراساس ټاکل شوې ده چې راتلونکې میاشت د افغانستان، پاکستان او امریکا چارواکي په نیویارک کې ووینې او د خبرو له لارې د طالبانو له مشرانو سره د روغې جوړې په هلوځلو کې پر پرمختګ غور وکړي.

خو مقاماتو (ممکن امریکایي یا بریتانوي) ټایمز ورځپاڼې ته ویلي چې له موقت اوربند سره د امریکا د پوځي او استخباراتي چارواکو مخالفت د خنډ ښودنه کوي.

د روژې په میاشت کې د پوځي عملیاتو د درولو وړاندیز د افغانستان، پاکستان او امریکا په وروستي درې اړخیزه غونډه کې مطرح شو.

یوه لوېدیځ څارونکي وویل : داسې ښکاربده چې د امریکا دریځ دا و چې دا هیواد په دې خوشالېږي چې له طالبانو سره خبرې پیل کړي خو امریکا یوازې هغه وخت غواړي چې له طالبانو سره خبرې وکړي چې د طالبانو په کمزوري دریځ کې وي.

همداراز د طالبانو مشرانو ته د نه نیول کېدو په باب د تضمین ورکول بله مهمه ستونزه ده.

له بلې خوا پاکستان وېره لري چې له افغان طالبانو سره د سولې د خبرو پیلول به د تحریک طالبان یا پاکستاني طالبانو پرضد د دغه هیواد د پوځي هلوځلوداخلي ملاتړ نورهم کمزوری کړي.

د ملاعمر له پخواني سکرتر طیب اغا سره لومړنی خبرې وروسته له دې په ټپه ودریدې چې په قطر او جرمني کې له هغه سره د خبرو جزییات افشا شول.

د ټایمز ورځپاڼې د راپور له مخې اوس ګومان کېږي چې امریکا هڅه کوي چې له جلال الدین حقاني سره خبرې پیل کړي چې د ناټو ځواکونو پرضد تر ټولو له خطرناکې شبکې سره تړاو لري.

د جلال لدین حقاني زوی سراج الدین حقاني د دې شبکې د عملیاتو مشرې په غاړه لري.

ټایمز ورځپاڼه لیکي: یوه جګپوړي مقام وویل چې افغانستان او پاکستان دواړه دا خبره ردوي چې دوی د امریکا او حقاني شبکې ترمنځ د خبرو د پیلبدو لپاره منځګړتوب کړی وي.

په واشنګټن کې د راتلونکې میاشتې تر غونډې مخکې پاکستان سر له اوسه غواړي چې امریکا ورته دا خبره سپینه کړي چې د طالبانو په وړاندې د واشنګټن پالیسي څه ده، ایا غواړي هغوی ووژني، وبې نیسي او که ورسره پخلا کېږي.

لوېدیځ دیپلوماتان وایي چې د امریکا او پاکستان ترمنځ له اختلافاتو سره سره دواړه هیوادونه غواړي چې له طالبانو سره د سولې مسله له خپلو اختلافاتو جلا وساتي.

پاکستان وایي سلګونو طالبانو ...

مرګ ژوبلې پېښې شوې.

په سیمه کې تر ټولو جګپوړي دولتي مقام رحمت الله وزیر وویل ټولټال پنځلس تنه، چې ډېری یې پوځیان دي، وژل شوي خو په سیمه کې یوه پوځي چارواکي د تلفاتو شمېر دولس تنه وښود.

وزیر وویل چې سخت دریځو حمله کوونکو ته هم مرګ ژوبلې اوښتي دي خو ده د طالبانو د مرګ ژوبلو شمېر ونه ښود.

په وروستیو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ پر یو بل ډزې او په دې ډول حملو کې د سخت دریځو رول سبب شوی چې د دواړو هیوادونو چارواکي پر یوبل اعتراضونه وکړي.

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.
د ننګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com